د افغانستان د بشری حقوقو خپلواک کمیسون

د افغانستان د بشری حقوقو خپلواک کمیسون- یوناما

# د سیاسی حقونو ګډه څارنه
# د ولسمشری او ولایتی شورا ټاکنی
# دریم راپور
# ۱ اګست- ۲۱اکتوبر 2009



په افغانستان کی د ملګری ملتونو مرستندویه پلاوی

یوناما

## د مطالبو فهرست


د موندنو لنډیز (3)

پیژندنه (4)

I. نا امني او بیروني (5)
ټاکنو ته په سیالی کی د تاوتریخوالی او تهدید ډیروالی (5)
د ټاکنو په ورځ نا امنی (5)

II. د رایي اچوني حق (6)
نا امنی او رایې اچونه (6)
د رایي اچوني د مرکزونو او ځایونو یو ځای کول او بې ځایه کول (7)
د ښځو ونډه (7)

III. سرغړونی او بی نظمي (8)
- د رایې د پاڼو د بکسونو ډکول (10)
- *د رایي اچوني په مرکزونوکي* انتخاباتی مبارزه *کول او رایه ورکوونکو ته لارښوونه* (11)
- *د رایې ورکولو* ګڼ شمیر *کارتونه* (12)
- دنورو په نمایندګی *رایه اچونه* (13)
- *د ښکته عمر لرونکو کسانو رایه ورکوونه* (13)
- *نیمګړتیاوی* (13)

IV. د بیان آزادي (13)

V. نتیجه (14)

پای نوټونه (16)
لومړی ضمیمه ـ د تفتیش او بیا شمیرنی د ارزونی په اړه د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون کړنلاره

## د موندنو لنډيز

- ټاکني په داسې شرايطو کې وشوې چې د لوژيستکې او د بشري منابعو د ستونزو په څنګ کې نا امني هم موجوده وه. دا لومړنۍ ټاکنې وې چې د افغانستان د ټاکنود خپلواک کميسيون له خوا په کلی توګه په مخ وړلی او تنظيم شوې وې او د افغان ملي امنيتی ځواکونو د ټاکنو لپاره د امنيت د سنبالولو مشری په غاړه درلود. دا هم لومړی ځل وو چه د بنديانو او په روغتونونو کې د ناروغانو لپاره ترتيباب نيول شوی وو چې خپل رايې وکاروي.

- د حکومت ضد عناصرو له خوا د نا امني زياتې پيښې د ټاکنو په برابرتيا او سرته رسولو کې ډير عمده عامل ګڼل کيده. د افغان ملي امنيتي ځواکونو له هڅو سره نا امني وضعې د افغانانو په پريکړه باندې چې په ټاکنو کې برخه واخلي او که نه اغيزه درلوده.

- د ټاکنو په ورځ دومره حملې او د ډاروني بيل شکلونه وليدل شول چې په ۱۵ کلونو کې چا نه وو ليدلی. د خواشيني خبره دا وه چې ۳۱ ملکي کسان ووژل شول په شمول د ټاکنود خپلواک کميسيون د ۱۱ تنو، او هکدارنګه ۱۸ افغان ملي پوليسو او۸ افغان ملي اردو ووژل شول.

- د ملي امنيت د شورا امر له داخلي او بين المللی خبري رسينو څخه غوښتی دی چې د رايې اچونې په ورځ د تاوتريخوالی د پيښو په باب راپورونه ور نکړي. د يو شمير ژورنالستانود نيولو تر څنګ دغه امر د بيان پر آزادي منفی اغيزی درلود. زياتو محلي خبري رسنيو د ټاکنو په ورځ د تاوتريخوالی د پيښو د راپور ورکولو څخه ډډه کړيوه.

- د راجسټر شويو کسانو څخه يوه په دريمي برخې رايې اچولې. دغه رقم له هغه شمير څخه ډير کم دی چې په تيرو ټاکنو کې ثبت شوی و. د رايې اچوونکو شمير په ټولو سميو کې يو شانته نه و. له جګړې څخه په متاثره شويو منطقو کې د رايې اچوونکو شمير کم و، خو په مرکزي، شمالي او شمال شرقي برخو کې د هغوي شمير ډير و.

- که څه هم افغاني ښځې په سياسي چارو کې زياته ليوالتيا ښيي، خود سړو په پرتله دوی په ټاکنو کې لږ برخه واخيسته. نا امنی او کلتوري او اجتماعي بنديزونو د ښځو د برخې اخيستنې مخنيوی وکړی.

- په ټاکنو کې د ټګيو برګيو او بې نظمی په اړه زيات شکايتونه شوې دي، په تيره بيا په دې باب چې د رايو صندوقونه د رايو له پاڼو څخه ډک شوی وو. دغه راز جعل کاري په مرکزي، جنوبي، جنوب شرقي او شرقي برخو کې عادی وه. د هيواد په ځينو برخو کې د بل چا پر ځای رايه ورکول، د ماشومانو له خوا رايې ورکول، د رايو د راجستر له کارتونو څخه څو ځله استفاده کول ليدل شوی دي. دغه راز د رايی په اکثره مرکزونو کی د درنګ د ناوړه استفاده، د کارتونو د سوري کولو د ماشين ناکاره توب او د راپور شوی درغليو د ادعا ګانو په اړه په پراخه کچه راپورونه شوی چه د ټاکنو په پروسه باندې د رايه اچوونکو باور کم کړی دی.

- په افغانستان کی د رايه اچوونکو د خپل نوماند د انتخاب حق ازادی د ټولنيز رواجونو لخوا محدود شويدی. د ټولنی د خوښی د نوماند انتخاب ځنی وخت د نفوذ لرونکو مشرانو يا په ډليځ شکل ټاکل کيږی. د انفرادی رايه ورکونکو د انتخاب ازادی لا نوره د نوماندو،د دوي د استازو، محلي قوماندانانو او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو له خوا په دې ډول محدود شوی دي چې رايه اچوونکو ته د رايه اچونې په مرکزونو کې هدايات ورکول يا بيرول او هلته يې کمپاين کاوه.

- د اکتوبر په ۲۰ د ټاکنو خپلواک کميسيون اعلان وکړ چی د نومبر په ۷ د ولس مشر کرزی او ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ به د ټاکنی دويم دور تر سره کيږی. . د اکتوبر د ۱۸ نيټی اعلان په اساس د ټاکنو د خپلواک کميسيون د محاسبی له مخی د لومړی سر کی کانديد رايی له ضروری ۵۰ په سلو کی اندازی نه چی د دوهم

دور ته تللو څخه مخنيوی لپاره لازم بلل کيدلی، راتيتی شوی. په همدی ورځ په يوه خبر کنفرانس کی د امريکايی سناتور جان کيری او د د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی، کای ايده په حضور کی رئيس جمهور کرزی ومنله چی د انتخاباتو د دوهم دور تر سره کيدل ضروری وو.

بې له دې چې د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د نتيجو پروسه متاثره شي، د جعل کاريو اندازه او ماهيت د ټاکنو د اعتبار په اړه يوه توده مباحثه راپيدا کړې چې ښايي له ټاکنو څخه وروسته سياسی اوضاع تر اغيزې لاندې راولي.

## پيژندنه

د رياست جمهوری او ولايتی شورا ټاکنی په ۲۰ اګست ۲۰۰۹ د سختو شرايطو او ويری په مهال په جنوب، جنوب لويديځ او د شمال په ځينو برخو کی تر سره شوی چی ښځو په نسبی توګه د هيواد په ستونځمنو برخو کی چرته چی د تاو تريخوالی او او درغلی ويره وه په ټيټه کچه ونډه واخستله. سره له دينه هم د هيواد په مختلفو برخو کی افغانانو ټينګ هوډ کړی ووچی خپله رايه استعمال کړی . د نړيوالو څارنکو هيئت[1] او نور زياتو ته څرګنده شوه چی د ټاکنو تر سره کول افغان ولس لپاره يوه لويه لاس ته راوړنه وه چی ديموکراتيکی پروسی[2] سره يی خپله ژمنتيا ښکاره کړه .

دا لومړی ځل ټاکنی دی چی په بشپړه توګه د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون په واسطه تنظيم او تر سره کيری .د يو څو ځايونو پرته د ټاکنيز مواد په خپل وخت او خوندی توګه ورسول شو او لوجستيکی مرستی په مسلکی توګه سنبال شوه. د ۶۲۱۰ ټاکنيزو مرکزونو [3] څخه زيات يی په ټاکلی وخت پرانستل شول چی ټول ۱۲۰،۴۶۲ ټاکنو کارکونکی[4] په دی کی ګمارل شوی و. د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو ټاکنو[5] په پرتله دا ځل زيات شميرد ټاکنو مرکزونو فعاله وو.[6]

د لومړی ځل لپاره افغانان د ځانګړی غوښتنی سره د رايی ورکولو جوګه شول. د ځانګړی ترتيباتو له امله د ملی اردو او ملی پوليسو پرسونل ،داخلی بی ځايه شوی خلک ،راستانه شوی کډوال ،بنديان (کوم چی د محکمی لخوا د رايی ورکولو حق څخه نه وو محروم شوی ) او په روغتون کی بستر اتباع ددی جوګه کړل چی رايه استعمال کړی. د ټاکنو خپلواک کميسيون ( ۸۲) اضافه د ټاکنو مرکزونه چمتو کړی وو چی د خاص ضرورت له مخی د رايه ورکولو اسانتيا برابری کړی. د ياد وړ ده چی د ۱۳۴۱ څخه ډيرو بنديانو په شمول د ۱۷ ښځو په کابل ،خوست او پروان ولايتونو[7] کی رايی استعمال کړی.

سره له دينه ګڼ شمير څارونکی او د نوماندانو استازی د هيواد د نا امنه سيمو پرته په ټول هيوادکی د ټاکنو په ډيرو مرکزونو کی موجود وو. دټاکنو مرکزونو کی د هغوی شتون ايله دومره وو چی د درغلی مخنيوی وشی ،او په ځانګړی توګه د نوماندانو استازو ته دنده سپارل شوی وه چی د ګډوډی په ليدو سره دی راپور ورکړی . د ټاکنو خپلواک کميسيون د ولايتی شورا کانديدانو ۱۶۹،۷۰۶ استازو ته اجازت ورکړی وو چی د دوی څخه ۳۶،۲۲۲ ښځينه ، د رياست جمهوری نوماندانو ۹۲،۸۹۷ استازی وو چی د دی جملی نه ۲۱،۱۰۳ ښځينه ، د ۱۲۵۰ نړيوال څارونکو څخه ۱۵۸ ښځينه او د ۹۲۲۸ کورنی څارونکو ډلی څخه ۳،۷۵۸ يی ښځينه د ۶۰۹ نړيوال مطبوعاتو پرسونل له جملی نه ۱۵۲ ښځينه ، د هيواد دننه مطبوعاتو ۶۳۸ پرسونل له جملی څخه ۱۲۶ يی ښځينه او د سياسی احزابو ۶،۹۹۸ استازو له جملی څخه ۳۹۶ يی ښځی وی[8] . د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنياد ( FEFA ) لخوا ۷،۸۵۸ څارونکو ګمارل شوی وو چی له دوی څخه ۲،۶۴۲ ښځينه څارونکی وی[9].

په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندويه هيئت ( UNAMA) او د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کميسيون د ټاکنو په ورځ د ۹۲۹ ټاکنيزو مرکزونو نه ليدنه وکړه. ددی کتنو راپور اوهمدا رنګه د نور اساسی اړوند اعضاء سره د سلا او مشورو په ځانګړی توګه (، EU OSCE/ODIHR, IRI,,NDI, FEFA) د سياسی حقونو ارزونی راپور سره خپل معلومات شريک کړی . راپور په څلور اساسی ټکو راڅرخی چی د ناامنی او د ټاکنو تر مخه او د ټاکنو په ورځ تاوتريخوالی ، د افغان ولس ټاکنو کی ګډون په ځانګړی توګه د ښځو ونډه او په ټاکنو کی ګډوډی ،درغلی او د بيان آزادی څخه عبارت دی .

## I: نا امنی او بیرونی

**ټاکنو ته په سیالی کی د تاوتریخوالی او تهدید ډیروالی**

ناامنی د ټاکنو تر ورځ پوری د ټاکنو لپاره د چمتوالی او ترسره کیدو په لار کی عمده ستونځه وه . د ټاکنو څخه یوه اونی د مخه دد وسلوالو مخالیفینو لخوا د امنیت اړوند پیښو کی منظم زیات والی د هیواد په کچه پیښ شو چی اصلی موخه یی د ویری چاپیریال رامنځ ته کول و چی د رایی ورکونکو مخنیوی وکړی او د ټاکنو خپلواک کمیسیون ( IEC ) چارواکی وډاروی . د ډار اچونی بڼی د وژنی ، تختونی ، د بمونو ځای پر ځای کول ، ناقانونه پوستو او شب نامو په بڼه وو چی ډیری په ځانګړی توګه په قندهار ،اوروزګان، هلمند ولایتونه (سویلی سیمه) غزنی او خوست ولایتونه ( سویل ختیځه ) کاپیسا ، وردګ او لوګر ولایتونه ( مرکزی سیمه )[10] کی پیښی شوی دی . د ا تکتیکونه چی د شب نامو د متن نه ښکاریده پدی موخه جوړی شوی وی چی په ټاکنو کی ګډون را ټیټ کړی .

ګڼ شمیر داسی شب نامی چی د مکاتبو چاروکو ته یی اخطار ور کړی وو چی یا خپل مکاتب د ټاکنو په لور وتړی او یا دی هغوی ته اجازت نه ورکول کیږی چی مکاتب د ټاکنیزو مرکزونو لپاره تری کار واخستل شی.د طالبانو لخوا په ۱۸ د اګست ۲۰۰۹ په پراخه کچه یو عمومی اخطار خپور شوی[11] و. طالبانو رایی ورکونکو ته نیغ په نیغ او هم د لاوډسپیکر او په جوماتونو کی د وینا د لاری اخطار ورکړی وو[12].

د طالبانو د لور تهدید ټاکنو ته د چمتو والی وخت ډیر والی وموند . د ټاکنو د نیټی ۲۰ د اګست ۲۰۰۹ نه یوه ورځ د مخه داسی راپورونه ورکړل شوی وو چی طالبانو په ډیرو سیمو کی د ټاکنو مراکزو د مخنیوی په خاطر لاری تړلی وی او رایی اچوونکو ته یی ګواښ کړی وو که د دوی د لاس ګوتی په رنګ ککړی وی (د رایی د استعمال نښه ) نو ګوتی به یی پریکول کیږی. د پام وړ د ټاکنو د تر سره کیدو نه یو اونی د مخه څلور د ځان وژنی حملی وشوی ،چی یو په ۱۴ اګست ۲۰۰۹ هلمند ولایت کی او دوه په کابل ښار کی په ۱۵ او ۱۸ اګست ۲۰۰۹ پرله پسی[13] حملی رامنځ ته شوی او یو په ۱۸ اګست ۲۰۰۹ کی په اوروزګان ولایت کی تر سره شوه.دا حملی د ځانګړی پام وړوی چی ټاکنیزه پروسه یی ویجاړوله او د رایی ورکونکو په منځ کی د بدامنی احساس خپراوه په تیره په کابل کی د ځو میاشتو راهیسی داسی پیښی نه وی لیدل شوی .

نوماندان او دهغوی کمپائن کونکی د دولت مخالفینو لخوا د ټاکنو نه د مخه اونیو کی تهدید او او نیغ په نیغ حملو ښکار شول . د ۲۰۰۹ د اګست د۱تر ۱۹ نیټی پوری ۱۵ پیښی د وسلوالو مخالیفینو لخواد کاندیدانو اود هغوی کمپائن کونکو د وسائطو پر ضد د مینونو د خخیدو او نور حملو پیښو منځ ته راغلی[14] .پدی سلسله کی ریاست جمهوری د نوماندانو د کمپائن ۵ نفره وتختول شو[15] ، د ولایتی شور یوکاندید[16] او دوه کمپائن کونکی د دولت د مخایفینو لخوا ووژل شول[17] .

د ټاکنو مرکزونه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ( IEC ) د انتقال کاروانونه ،ټاکنیز مواد او IEC پرسونل د مخالیفینو د حملو نښه وګرزیدل . کم نه کم ۲۹ حملی د رایی په مرکزونو وشوی په شمول د هغو مکاتبو چی د ټاکنو د مرکزونو په توګه تری استفاده کیده چه یوازی یی ټاکنیز موادو ته یی زیان واړوه، ۱۴ حملی په هغه موټرو کتارونو وشوی چی ټاکنیز مواد یی انتقالول او یا هغه افغان ملی امنیتی قواوی کومو چی دا کتارونه بدرګه کول د حملو نښه وګرزیدل په ځانګړی توګه د ټاکنو نه څلور ورځی[18] د مخه را منځ ته شوی.د یادونی وړ ده چی د هیواد په سویل، شمال او شمال ختیځ[19] کی د IEC ۹ نهه چارواکی وژل شول او پنځه نور یی وتختول شول[20].

## د ټاکنو په ورځ نا امنی

د ټاکنوتر ورځ پوری د ویرولو او حملو سلسله دوام لرلو او په ۲۰ اګست ۲۰۰۹ د ریکارد وړ د بد امنی پیښی را منځ ته شوی چی په یوه ورځ کی( ۳۰۰پیښی) تر سره شوی د څه ۱۵ کلونو په دوران کی . د د ی حملو شمیراو شد ت تر منطقو توپیر درلودلو ، شمال، لودیځی او مرکزی سیمی په نسبی توګه ارامه وی خو د بد امنی ډیری پیښی په سویل ،سویل ختیځ او یو څه په مرکزی برخه (وردګ،لوګر)او شمال ختیځه ( بغلان او کندوز) په سیمو[21] کی را منځ ته شوی . دا حملی عبارت وی د ټاکنو د مرکزونو خوا اوشا او نژدی امنیتی پوستو باندی د راکټو حملی ، مائنونو چاودل او د سپکو وسلو برید ونه شامل دی . د مخالفینو د حملو زور د سهار د مخی د ټاکنو

د مراکزو د برسیره کیدو راهیسی تر غرمی د بیا تړلو تر مهال زیات وو. د راپورله مخی په ۲۰ اگست ۳۱ملکی وګړی وژل شول او ۷۹ ملکی افراد ټپیان شول او د IEC د مطابق د ملکی تلفاتو په منځ کی ددوی ۱۱ چارواکی هم شامل دی[22]. ددی سره ۱۸ ملی پولیس او ۸ ملی اردو سرتیری وژل شول او لږ تر لږه ۲۷ ملی پولیس او ۲۷ ملی ادو پرسونل ټپیان شول[23]. بیا هم زیاتی پیښو شدت په نسبی توګه کم وو او په ښکاره یی موخه د وژنی نه وه .زیات شنونکی پدی اند وو چی ددی بریدونو موخه د ویری چاپیریال رامنځ ته کول وو چی د ولس ایراده د رایی ورکونی مرکزونو ته تګ څخه منع کړی .

## II.د راي ورکولو حق

په څه تعداد کې فکتورونو د اکثره وګړو چې غوښتل یي د راي د ورکولو د حق څخه استفاده وکړي، اغیزه وکړه ، په ځنګړی ډول نا امنی او دودی خنډونه (خصوصا د ښځو لپاره) او په عامه ادارتو [24] بې باوریوه. په پایلی کی د افغانستان ملی امنیتي چاروکو او د ټولټاکنو خپلواک کمیسون د نه ستړیدونکو هلو ځلو باوجود د ۲۰۰٤ کال[25] د ریاست جمهوري او په ۲۰۰۵ کال کې د پارلماني ټولټاکنوپه پرتله د هیواد په کچه د وګړو برخه اخیستنی کمه وه[26]. د ټاکنو خپلواک کمیسون مطابق، په اساس د دوی د ۱۵۲۹۵۰۱۶مستحقو رایی ورکونکو، ۳۸,۷۵ فیصده مستحقو وګړو په ټولټاکنو کې ونډه اخیستی چې د هغی جملی څخه یي ۵۸،٤۲ فیصده نارینه، ۳۸,۷۵ فیصده ښځینه او پاتی ۲,۸۳٪ یي کوچیان تشکیلوي.[27]

## نا امنی او رایې اچونه

د ټاکنو په ورځ خراب امنیت د هیواد په بیلا بیلو برخو کې د رایي ورکوونکو په شمیر اغیزه وکړه. د غورمچ ولسوالي څخه پرته د شمال[28] په اکثره سیمو کې د انتخاباتو پروسه په نسبی ډول د امنیت په فضا کې پر مخ ولاړه. همدارنګه په غربی سیمو[29] ( په استسنا د شینډنډ ولسوالي(هرات ولایت) او فراه ولایت) او په مرکزي غرائیزه سیمو[30]، تخار او بدخشان ولایتوکې (په شمال ختیځ زون)[31] ، پنجشیر او فروان ولایتونه[32] (مرکزي مناطق) کې امنیتي پیښې کمې وي. په دغو سیمو کی په عمومی ډول ارامه فضا[33] او ښه عامه پوهونه د هیواد پدي سیمو کې د زیاتو وګړو د ونډې اخیستنې سبب شوه.

بر خلاف د ټاکنو خپلواک کمیسون په مطابق، د امنیتي پیښولپه امله ۷٦۰ د راي اچونی مرکزونه فعاله نه شول. [34] د یونما او د افغانستان د بشرد حقوقو مستقل کمیسون له مخی[35]، کپیسا ، لوګر او وردک ( مرکزي زون)[36]، کندز او بغلان ولایتونه (په شمال ختیځ زون کې)[37]، فراه او هرات ولایتونه (په غربي سیمه)[38]، نوریستان (په ختیځه سیمه کې)[39]، پکتیکا په جنوب ختیځ زون کې[40] او همدارنګه جنوبي سیمو کې په خاص ډول زیانمندی شویدی. په جنوبی سیمو کی خپلواک حضوری نظارت پدی موخه چه څومره د راي اچوني مراکزد امنیتي ستونزو له امله بند وو البته ممکن نه وه.

علاوه پردی د جنوب، جنوب ختیځ او ختیځ، لوګر او وردک ولایتونو (په مرکزي سیمه کې)، کندز او بغلان ولایتونه په جنوب ختیځه سیمه کې او فراه ولایت په غربی زون کې د وګړو زیاته برخه په هغو سیمو کی چه تاوتریخوالی ماثره کړی د راي مرکزو څخه د همدي ستونزي له امله ځانونه لیري وساتل. په پراخه کچه ویل کیږي چې نا امني ددغو افغانانو درایی ورکولو د حق څخه د برخمنتیا مخنیوی وکړی. په جنوبي سیمو لکه کندهار، هلمند، زابل او ارزګان ولایتون[41]و( په استثنا د نمروز[42]) په کوڅو کې ډیر کم وګړي ترسترګو کیدل. په جنوب ختیځ، خصوصاً د خوست[43]، غزني او پکتیکا په ولایتو کې نا امنی د رایی ورکونکی د رایی اچولو په تسمیم نیولو کی عمده فاکتور لیدل کیده. همدارنګه د وردکو ولایت په اکثره سیمو کې کم تعداد مراکز خلاص و[44]و. ګمان کیږی چه ډیرو کم رایه ورکونکی تر سترګو شول.

د راي اچوني مراکزو ته نژدې خال خال راکټی بریدونه، انفجارات اوهمدارنګه د افغانستان امنیتي قوتونو او مخالفینو ترمنځ بریدونو نه یوازی خلګ په ټاکنو کې د ګډون څخه منصرف کړل بلکه د وخت نه د مخې[45] یا په مواقت ډول[46] د راي د مراکزو تړل یا د یو ځاي څخه بل ځاي ته تبدیلول[47] د خلګو ګډون په ټاکنو کی مخنیوی

وکړی یا مجبوره کړی چه په لیری پرتو سیمو کی د امن کې راي اچوني مرکزو ته سفر وکړي. د بیلګی په توګه د هلمند ولایت د لشکر ګاه ولسوالي د کرزي ستدیوم په سیمه کې د راي اچوني یو مرکز د خلاصیدو سره سم د راکټو تر برید لاندې راغې چې پکې یو ماشوم مړ او دوه ځوانان زخمیان شول، او په ستدیوم کی موجود خلګ اړشول چه ساحه ترک کړی. د کنړ ولایت د نارنګ ولسوالي کې د بار نارنګ راي اچوني مرکز ته نږدی یو راکټ لګیدل او د افغانستان د امنیتي قواو او مخالفینو ترمنځ نښته د رایي اچوني مرکز د تړولو سبب و ګرځیدل. ویل کیږی د ورځې په وروستیو کې کله چه مرکز بیرته خلاص شو نو وګړي د راي اچوني لپاره رانه غلل. همدارنګه د خاص ارزګان ولسوالي، ارزګان ولایت کې د حکومت ضد عناصرو او د افغان قواو چه د خارجی قواو ملاتړ ورسره و تر منځ نښتی او د توپونو په بریدونو د ډیرو خلګو درایی اچونی مخنیوی وکړی.

د طالبانو ترولکی لاندی سیمو کی وګړي په ټاکنو کی د ګډون لپاره د طالبان د غچ څخه په وبره کی وه. لکه چې وړاندې یادونه وشوه، طالبانو لا د مخه خلګو ته ګواښونه کړیوه او تهدید کړیوه چې په ټولټاکنو کې برخه وانه خلي کنې ددوي ګوتې به ورغوځې کړي او هم یي په تګ راتګ بندیز لګولي وو[48]. په نتیجه کې یي د زابل ولایت په زیا تره سحو کی، د هلمند خاص برخی (سنګین،واشر، کانیشن، ګرمسیر، کجاکې ، دیشو، بغران او نوزاد ولسوالي ) او د ننګرهار، کنړ، نوریستان او لغمان ولایتونوزیاتره سیمو (په شرق کې) ټاکنی ندی ترسره سوی او که چیرته هم تر سره شویوی د ولسوالیو مرکز پوری محدوده وی. د هیواد په بعضو سیمو کې مخالفینو لخواد سرکونه بندول خلکو ته ددوي تهدیدونه په عملي ډول ثابت کړل.[49]

## تغیر مکان یا د رایو دمرکزونو او محلونو یوځی کیدل

د د رای اچولو د مراکزو په شاه وخوا کی د امنیت د زیاتوالی د هڅو په موخه د انتخاباتو مستقل کمیسیون د 2009 د آګست په 18مه نیټه اعلان وکړ چه د رایو 6519 مرکزونه به د رایو اچولو په ورځ خلاص وی.[50] لکه چې وړاندې یادونه وشوه دا تعداد د مرکزونو یو زیاتوالی وه په نسبت د 2004 او 2005 انتاخاباتونه. د ټاکنو خپلواک کمیسون د رایو اچوونکو د عامه پوهاوی د لوړوالی لپاره تعلیمی فعالیتونه او معلوماتی مبلرزی ترسره کړی تر څو رایه اچونکی د رایو د مراکزو د موقیت څخه خبر وی. د مثال په ډول په شمال کی دا یوه برخه د ( څنګه رایه واچوو ، او چیرته رایه واچوو) تر نامه لاندی د ټاکنو خپلواک کمیسون یوه عمومی برنامه وه.

اګرچه د د ټاکنو خپلواک کمیسون د رایو اچونو مرکزونه د بی امنیتی له وجهی د تقسیم آوقات نه یوازی یوه اونی وروسته اعلان کړل ، د د ټاکنو خپلواک کمیسون وکولای شول چی د عامه پوهاوی پروګرامونه یوازی په شهری سیمو او امن ځایونو کی تر سره کړی. د کاندیدانو نمایندګانو او پخپله کانیدان داپخپلو ځانونو باندی ومنله چی رای اچوونکود رای دمراکزو د انتقال او د مدغم څخه د شمال ، شمال شرق، غرب اود کندزشمال غرب په ناامنو سیمو کی با خبرکړی. دا ګمان کیږی چی د رای اچونو به ورځ بعضی رای اچوونکو لاهم د رایو اچونو د مراکزو څخه خبره نه وه. د مثال په ډول د بدخشان د کشم او خواهان په ولسوالیو کی بعضی مراکزو یو زیات شمیر رایو اچوونکو ومونډل چی هغو ادعا کول چه هغه خبر نه و چرته رایه واچوی. لا تر مخه دا ویره څرګنده شو چی د رایو د مرکزونو د انتقال، یوځی کیدل کیداشی یو زیات شمیر خلک خصوصآ هغی ښځی چی د رایو له مراکزو نه لری پراتی دی او مرکزونه ورته معین شوی ندی ، د رایو اچولو څخه محرومه پاتی شی.[51] اما دا نه تصدیق یا د شمره غورځول کیداشی.

## د ښځو ګډون:

که څه هم افغان ښځو په سیاسی او انتخاباتی پروسی کی د خپلی علاقی زیاتوالی وښودلی ، مګر د بی امنیتی د زیاتوالی تآثیرات اوهمدارنګه بعضی رواجی نورمونو ښځی د ټولنیز ژوند د مشارکت او برخه اخیستنی څخه منع کوی. د ښځو د رایو اچونو توان او قدرت اکثرآ په محلی حالاتو پوری تړاو درلود. په عمومی ډول د ښځو برخه اخیستنه د نارینو په پرتله د رایی په مراکزو کی ډیره کمه وه. د ښځو برخه اخیستنه د ملک په امنو سیمو کی لکه د شمال[52] په مرکزی ساحو کی[53] او یا هم په غرنی مرکزی سیموکی، اویا هم د هرات او بادغیس په ولایاتو[54] ، شمالی سیمو لکه بدخشان او په تعضو نورو ځایو کی لکه د پروان ولایت په بعضو سیمو کی یوه تشویقی جنبه درلوده، حتی ډیره زیاته تشویقی بڼه یی د شبرغان ښار[55]، جاوزجان، قلا نو بادغیس، او داسی نورو ځایو کی درلود چیرته چه د ښځو شتون (برخه اخیستل) له نارینو څخه په کافی کچه زیاته وه. په دغه زون کی د ښځو د

برخه اخیستنو د ډیروالی د کچې علت دا وو چې دعامه پوهاوی فعالیتونو او د بلی خوا د د ښځینه کاندیدانو د کمپاین او بسیچ کول دوی ټول را وهڅول چې د خپلو رایو د حقوقو څخه باخبره شوی وی.

یوناما او د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون د راپور له مخی په نا امنه سیمو کی تقریباً 430 د ښځو د رایو اچونو مرکزونه یا بند پاتی شول او یا هم انتقال/ مدغم شول. دا ممکن ده چه دغه تسمیم (که څه هم د امنیتی ستونځو له کبله حق په جانبه و)د ښځو لاسرسی د رایی مرکزونو ته نوره هم ستونځمنه کړل او د رواجی او لوجستکی فشارونو (لکه د ملکی ترانسپورت څخه استفاده، ښځو د جدی ستونځی سره مخ شوی کله چه دوی مجبوره شوی چه د لیری واټن سفر وکړی.

څرنګه چه داسی شواهد وجود نلری چی دا څرګنده کړی چه د ښځو د رایو اچولو مرکزونه په یو معین وخت کی د دښمن تر حملی لاندی راغلی وه،وویل کیږی چه بی امنه چاپیریال د ښځو د رای اچونی مخنیوی و کړی[56]. د مثال په توګه په کابل ښار کی دا ولیدل شول چه د ښځو سیاسی برخه اخیستنه د یو ښار په کچه څرنګه چه تمه کیدل ډیره ټیټه وه. بعضی ګمان کوی چه د ښځود رایی اچونی تصمیم په احتمالی توګه د دودی فشارونو په نسبت بی امنی زیات متاثره کړیوه. د سږ کال په انتخاباتو کی د ښځو د برخه اخیستنو کچه په نسبت د 2004 او 2005 نه په لوړه کچه ټیټه وه. په جنوب او شرق زون[57] کی دفراه ولایت په غربی زون کی، وردګ او لوګر ولایتونه[58] په مرکزی زون کی او کندز ولایت په شمالی زون کی د ښځو برخه اخیستنه په ډیره ټیټه کچه وه. په ډیره ټیټه پیمانه د هلمن[59]د د ناو زاد په ولسوالی کی، هلمند د خانشین په منطقه کی[60] په یوه جومات کی او د لوګر په ولایت کی د اتموری په منطقه کی اټکل کیږی چه هیڅ یوه ښځه خپلی رایی ندی کارولی.

بر سیره پردی، د نارینو د نفوظ لاندی چاپیریال کی د ښځینوو د نقش دودیز درک د ښځو د انتخاب او خوځښت د آزادی د سلب کیدو سبب ګرځی. د هیواد په زیاته برخه کی رواجی او رسومی عنعنات د ښځو برخه اخیستنه په انتخابای پروسو کی، که د نوماند یا رایه اچونکی په صفت وی یو نامنظم او غیر مرتبط عمل ګڼل کیږی. په عامه ژوند کی ګډون کونکی ښځو باندی ګواښونه،آزار، او بریدونه[61] او د شیعو د شخصی حالت قانون چی د انتخاباتو نه مخکی په چاپ رسیدلی، په افغانی چاپیریال کی د ښځو په وړاندی محافظه برخورد بیلګی دی. لدی امله دا حیرنونکی نه ده چی د انتخاباتو د کمیسیون د تعلیم او د عامه پوهاوی د کوششونو او د مدنی ټولونو او سیاستمدارانو د تشویق سره سره چه ښځی یی هڅوله چی خپلی رایی ورکړی، بیا هم ښځی پدی حالت کی نوی چی د خپلی رایی د حقوقو څخه په سمه توګه ګټه واخلی او په خپله خوښه زادانه تصمیم ونیسی او په انتخاباتو کی برخه واخلیی.[62]

که څه هم، د انتخاباتو مستقل کمیسیون 62844 ښځی یی د ښځینوو د رای اچولو د مرکزونو د نظم لپاره استخدام کړی[63] و چه دغه کچه لا هم د کومو ارقامو چی د ښځینوو د رایو د مرکزونو ضرورت ورته محسوس کیدله کم وو. په نتیجه کی 3504 دښځو د رایو اچولو مرکزونه د مخورو نارینه مشرانو لخوا اداره کیدله. اکثرآ دغه مراکز په جنوب ختیځ زون[64] کی د پکتیا پکتیکا خوست او غزنی ولایتونو[65] ، په لویدیززون کی غور ولایت، [66] او په ختیز زون کی ننګرهار ولایت کی شتون درلود. د ښځینه کارکونکو نشتوالی د انتخاباتو په مرکزونو کی کیداشی د بغضو شځینه د رایو د اچولو مخنیوی کړیوی بیله شکه دودیز نورمونه څوګندوی چی د نارینو په حضور کی د ښځی رایه ورکول نا مناسبه دی[67]. د فیفا په مطابق، په جنوبی سیمو کی د ښځینه کارکونکو نشتوالی د ښځو د رایی اچونی مخنیوی وکړی[68]. د بیلګی په توګه د ارزګان په ولایت کی د ښځینه رایه اچوونکی یو ګروپ د چوره ولسوالی په شمالی برخه کی د رایه کارولو په موخه را ووتلی وی اما د رای اچولو په مراکزو کی د ښځینه کارکوونکو د نشتوالی له کبله دوی خپله رایه ونکاروله.[69]

**درغلی او بی نظمۍ:**

د دی لپاره چی د سرغړونو مخنیوی شوی وی د ټاکنو خپلواک کمیسون د سرغړونو ضد د حل څو لاری اود پیداکولو اقدامات پلان کړل، په شمول ددی چی اچول شوی رای د اعتبار لرولو لپاره باید ټاپه لرونکی وی، د نه تلونکی رنګ کارول، د رایو د صندقونو لپاره د نمبر درلودونکو سیلونو(قلفونو) کارول، درایو د نتایجو د خوندی انتقال لپاره د نتایجو د پاڼی او همدارنګه د رایه اچولو دمرکز ژورنال کارول، ټنګ امنیت او دټاکنو حساسو موادو

ته محدوده لاس رسی او تر مخه پلان شوی حسابی تصفیه. د ټاکنو د حساسو موادو د تګ راتګ محتاطانه کنترول. د سرغړونو ضد نور اقدامات د حساسو موادو د حرکت سخت کنترول او د حساسو موادو لاستی، طرزالعملونه کوم چې د سرغړونو په موندلو او مخنیوی کی کاریږی(د شپږو موازین په شمول چې لاندی ذکر شویدی) حد اکثر شفافیت او په خاصا توګه د کتونکو، نمایندګانو او د ژورنالیستانو کره کتنه[70].

سره لدی، ددی لپاره چې اعتبار او حیثیت د نتایجو د شمیرنو په پروسه کی مطمین شی داسی یو سیستم رامنځته شو چې شکمنی پایلی وپیژنی تر څو په اتوماتیک ډول کرنتین شی.[71] دغه پارلیکی د پایلو د کرنتین لپاره لاندی شپږ موازینونه شاملوی:۱) د رایه اچولو په یومحل کی د ۶۰۰ او یا لدی نه زیاتو رایو ثبت کیدل او ۹۵ فیصده رای د یو کاندی لپاره. ۲) د رایه اچولو په یو مرکز کی د ټولو رایو شمیر زیاتیدل له هغه شمیر رایه پاڼوڅخه چې د رایو اچولو مرکز ته ورکول شوی دی. ۳) کله چې د رایه اچولو په یو محل کی له ۱۰۰۰ څخه زیاتی رایی واچول شی په هغه صورت کی چې دا تصدیق شی چې دا د رایه اچولو د یوه محل نتا یج دی نه د رایه اچولو مرکزونه۴) درایه اچولو دداسی مرکز څخه د نتایجو ترلاسه کول چې په حقیقت کی هیڅ خلاص نه ؤ. ۵) د رایه اچولو د داسی مرکزونو څخه د پایلو تر لاسه کول کوم چې د ټاکنو د خپلواک کمیسون له لوری ارزول شوی وی او دوی هغه مرکز فریبکارانه موندلی وی او یا هم ۶) داسی پایلی چې د ټاکنو خپلواک کمیسون شکمنی بللی وی .

پدی هکله د ټاکنو د شکایتونو کمیسون ته واک ورکړ شوی ؤ تر څو هغه شکایتونه باندی قضاوت وکړی چې په ټاکنو کی د سرغړونو، په رایه اچولو یا حساب کولو کی فریب او یا هم د ټاکنو به موادو او رایه اچولو په صندقونو کی غیری قانونی مداخلو په اړه وی. [72] که چیرته ټاکنیزی سرغړونی تر سره شی، د د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کیدای شی د رایو د بیا شمیرلو امر ورکړی، دوهم ځلی رایه اچولو، د رایو په با طلولو او یا هم نورو اقداماتو او مجازتو باندی امر ورکړی.[73] یوازی د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د رایه اچولو او حسابولو په اړوند شکایتونو باندی د قضاوت نه ورسته به د ټاکنو خپلواک کمیسون په داسی موقف کی وی چې د ټاکنو پایلی تصدیق کړی.[74]

د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په ۸ نیټه د ملګرومللتونو د سر منشی خاص استازی کای آیدی د ټاکنو په خپلواک کمیسون او د ټاکنو د شکایتونو په کمیسون غږ وکړ چې د رایه شمیرلوپه لومړنیو پایلوکې چې د بې نظمې کوم بیلګې لیدل شوې وې باید له لومړې پړاوو کې ویستل شې . هغه نور ټنګار وکړی چې (ددی ټاکنو حیثیت او بشپړتیا د افغانستان لپاره خورا مهمه ده ...) او د ټاکنو خپلواک کمیسون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید خپل ماموریت په ډیر لوړ معیار سره ترسره کړی ( تر څو اخیری پایلی په افغانستان کی د رایه ورکوونکو هیلی په پوره توګه منعکسی کړی)[75]

اما تشویشونه هغه وخت څرګند شول کله چې د سپتمبر په ۸ نیټه د ولسمشریزو ټاکنو لومړنی پایلی اعلان شوی او د ټاکنو خپلواک کمیسون د نه منلو شپږ معیارونه د جمله څخه یوازی دری وکارول[76] او د رایه اچولو د ۵۷۹ مرکزونو پایلی کرنتین شوی.[77] د ټاکنو خپلواک کمیسون دا توجیهات ورکړل چې د ټاکنو قانون د ټاکنو خپلواک کمیسون ته دا واک ندی ورکړی چې د ټاکنو پایلی باطلی کړی او د ټاکنو هغه پایلی چې کرنتین شی هغه باید د قضاوت او بی اعتباره بللو لپاره د ټاکنو د شکایتونو کمیسون ته ولیږل شی، که چیرته مناسبه وی.

د ټاکنو د شکایتونو کمیسون ۲۵۸۴ شکایتونه ترلاسه کړی دی چې لدی جملی نه ۸۹۳ یی په لومړیتوب کی راځی.[78] د ۲۰۰۹ کال سپتمبر په ۸ نیټه، د و لسمشری ټاکنو د رایی پر بعضو بکسونه له لومړنیو څیړنو وروسته د ټاکنو د شکایتونو کمیسون د درغلیو واضح او قانع کونکی شواهد تر لاسه کړ (د زیاتو معلوماتو لپاره لاندی وګوری) هغه شواهد چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسون تر لاسه کړی یکی د رایه اچول د صندقونو څخه نښانی، هغه فورمونه چې له رایو سره وی او د رایو خپل حالت چې په قانونی توګه ندی اچول شوی یا په صحیح توګه حساب شوی ندی.[79] برسیره پر دی د ټاکنو د شکایتونو کمیسون د ولسمشری ټاکنو لپاره د هغو بکسونو د بیا شمیرنی او حسابی تصفیی امر وکړی چیرته چه د رایی په یوه مرکز کی د جمله اچول شوو رایو شمیر ۶۰۰ وو یا ډیر یا چیرته چه ولسمشری ته یوه نوماند ۹۵ په سلو کی یا تردی زیات اعتباری رایی د ځان کړیوی او هلته د ۱۰۰ زیات رایی د رایی اچونی په مرکز کی اچول شویوی.[80] پدی اساس د ټاکنو خپلواک کمیسون اعلان وکړ چې برسیره پردی د رایه اچولو د ۴۴۷ محلونو رایي په قانوني ډول بې ارزښته ګڼل شوی او د رایه اچولو ۳۳۷۷ محلونو رایی به بیرته وشمیرل د ټاکنو د شکایتونو کمیسون او د ټاکنو خپلواک کمیسون د احسایوی نمونه د حسابی

تصفیه موافقه کړی، د رایو ۳۴۵ بکسونه په نا ټاکلی شکل د حسابی تصفیه لپاره انتخاب شول. دغه حسابی تصفیه د ټاکنو د شکایتونو کمیسون د هغو شکایاتو د پلټنی مهتمم دی چه د ټاکنو په ورځ یا وروسته سپارل شویدی. د ټاکنو د شکایتونو کمیسون به د رارسیدلو شکایاتود پلټنی پایلی او موندنی به ددوی د تصمیم نیولو کی چه ایا ټاکنیزو بینظمیو د ولسمشری ټاکنو په نتایجو باندی اثر ولری استفاده تری وشی.

د ټاکنیزو سرغړونو او بی نظمیو په اړه ملاحظي وړ شمیر شکایتونه د یونما او د بشر دحقوقو د خپلواک کمیسون له لوری ترلاسه شوی دی چی ځیني یي د راپور په پای کی د واقعو په توگه بیان شوی دی او دا اصلاً د ادعاگانو بیلگی دی چی گډو گروپونو ترلاسه شی او کتنه یی ترسره شویده. یونما او د بشر دحقوقو خپلواک کمیسون د بی نظمیو او سرغړونو په هکله ۳۸۷ شکایتونه تر لاسه کړی چی ۲۴۱ شکایتونو ته یی کره کتنه شوی ده چی لاندی ذکر شوی دی. تقلبی رایه اچونه د هیواد ټولی برخی ندی متاثره کړی مگر په مرکزی، جنوبی، شرقی او جنوب شرقی سیمو کی او د فراه ولایت به غرب کی د راپورونو له مخی زیاتی وی. که څه هم د اټکل له مخی ۲۸۰۰۰۰ کتونکی او د کاندیدانو نمایندگان د نظارت په موخه په ټول هیواد کی خپاره شویوه چه د سرغړونو مانع وگرځی او اشتباهات او بی قانونی په نښه کړی.[81] په هر صورت ناامنی کتونکی دی ته اړ کړل چی د رایه اچولو یو شمیر مرکزونو ته په جنوبی، جنوب شرقی او غربی سیمو کی او همدارنگه د وردگو، لوگر او د کاپیسا ولایت جنوبی ولسوالیو (مرکزی سیمه) ته لاړ نشی چیرته چی د بی نظمیو او سرغړونو په هکله د یو زیات شمیر شکایتونو ابتدا وشول.[82]

### *د رايي اچوني د صندقونو ډکول*

د رایه اچوني د صندقونو د ډکولو او د ستونزو د وسعت ته په کتلو سره که چیرته په ربښتیا دغه ادعاگانی ثابتی شی ادعاگاني د ټاکنود پایلو سپیڅلتوب کیداي شي په بالقوه توگه سخت متاثره شي. یونما او د بشر د حقوقو خپلواک کمیسون لخوا تر لاسه شوی بي شمیره ادعاگاني د رایو صندقونو د ډکولوسره تړاو لري. څرنگه چه د شکایتونو خپلواک کمیسون په نښه کړل د رایی اچونی د صندقونو ډکول په اړوند د شک د ډیروالی فکتورونه له جمله نه، د رايي اچووني ټولو محلونه رايي یوشانته شمیر درلودل، د رايي اچووني هغه محلونو چي هلته یوه ځانگړي کاندید ۱۰۰ فیصده رايي اخستي وي، د پایلو د پاڼي او د رایو په صندقونوکي د رایو د شمیر توپیر، درايي اچوونو په پاڼویوشان نښي، د رایه ورکولو د محل په ژورنال کي د رایه ورکوونکو ثبت شوي شمیري او د اچول شوو رایو ترمنځ توپیراو د رایو هغه پاڼي چي د قات کولو نښي نه لري دا ښي چي دوي قات شوي ندي او صندق ته اچول شوي.[83] ددی پریکړه کول چه ایا درغلی شویده، د ټاکنود شکایاتو کمیسون به د ددغو عناصرو ترکیب وکاراوه.

زیلت شمیر هغه شکایتونه چه د رایه اچونی د صندقونو سپیڅلتوب د مصلحت د خطر سره مخ کړی د سهیلي حوزي[84] په ځانگړي توگه د کندهار ولایت د سپین بولدک، ارزگان ولایت د ترینکوټ او دکندهار ولایت د شوراوک له ولسوالیو، د سهیل ختیځي حوزي په ځانگړي توگه د غزني او پکتیکا ولایتونو[85] ، د ختیځي حوزي[86] او مرکزي حوزي[87] اساساً د کابل، لوگر، کاپیسا او وردگو له ولایتونو ترلاسه شوي. د بیلگي په ډول یو شمیر را رسیدلی شکایتونه دا جوته وی چی د ټاکنو د خپلواک کمیسون او دولتی چاراوکو، محلي قومندانانویا افغان ملي پولیسو یوه شپه مخکي تر ټاکنو او د ټاکنو په ورځ د رايي اچووني صندقونه د رايي اچووني له محلونو څخه نورو ځایونو (عموماً شخصي کورونو) ته انتقال ول چیرته چي داصندقونود ادعاوو له مخي د ځانگړو کاندیدانو په گټه ډک شوي دي. یو شمیر راپورنه د کندهارولایت د شوراوک، ریگستان او سپین بولدک له ولسوالیو څخه تر لاسه شوي دي چي د رایو صندقونه د حکومتي مقاماتو او افغان سرحدي پولیسو له لوري ډک شوي. په ورته ډول د پکتیکا ولایت د یوسف خیلو له ولسوالي څخه د راپورونو له مخي د ولسوالي اداري مدیر د رايي اچووني صندقونه خپل کورته وړي ؤ. په دي اړه د شکایتونو د اوریدلو کمیسون د پکتیکا، کندهار او غزني په ولایتونوکي د رايي اچووني د ۸۳ محلونو رايي په ترتیب سره بي اعتباره کړي.[88]

د گوتو په شمیر ځیني راپورونه هم ترلاسه شوي دي چي د رايي اچووني په ځینو مرکزونو کي جگړه را منځ ته کول پدی موخه وه چي د رايي اچووني د صندقونه ډکولو ته زمینه برابره شي. د بیلگي په ډول د کندز ولایت کلزال، امام صاحب او د پکتیا ولایت لاجه منگل او احمد خیلو د ولسوالیو په اړوند ادعاگیری چي په د رايي ورکولو په دغو مرکزونو کي جگړي او حملي ددي لپاره مخته پلان شوي وي ترڅو دولایتي شورای ځیني

کاندیدان د رايي اچووني خالي بکسونه واخلي او بيرته يي ډک راوړي.[89]

د رايو د شمير او رايه ورکوونکو ترمنځ توپير:

په ځينو بيلګو کي، د هغورايو شمير چې اچول شوي د رايه ورکوونکو تر شمير چې د رايي د ورکووني په محلونو کی د راپورله مخي ليدل شويدي زياتي دي. په نورو بيلګو کې د هغو رايو شمير چې اچول شوي د ثبت شورايه ورکونکو له شمير څخه زيات وو. د ټاکنوخپلواک کميسون وړاندوينه کړي وه چې د رايي اچووني هر محل به ٦٠٠ رايه ورکوونکي ځاي کړي. د شکايتونو د اوريدلو کميسون څرګنده کړي چې د رايي اچووني په اکثراً محلونوکې چيرته چې سرغړوني شوي د هغو رايو شمير چې اچول شوي د رايه ورکوونکوله کمزوري ګډوون سره چې د باوري کتونکو له لوري يي راپور ورکړ شوي زيات توپير لري.[90] دفعه رنګه توپيرونه زيياتره په نا امنه سيمو کې واقع شوي دي. د کندهارولايت د سپين بولدک څخه د رايو اچولو صندقونو کې د ٥٠٠ څخه تر ٦٠٠ رايي ثبت شوي چې دا په پراخه کچه د رايه ورکوونکو ګډون په ګوته کوي، که څه هم عيني شاهدانو راپوروونه دا ښيي چې د رايي ورکولو محلونه ناسبتاً توګه خالي ؤ. د کندهارولايت ارغستان ولسوالي د بالاجريا په منطقه کې او د هلمند ولايت، لښکرګاه ښار د حيکمند کاريز په منطقه کې د ادعاګانو له مخي په ټاکنوکې هيڅ ګډوون نه وشوي خو د رايي اچووني صندقونه ډک ول. د غزني ولايت د اندړوپه ولسوالي کې د پام وړ شمير رايي (٢٥٠٠٠) اچول شوي څنګه چې دا څرکنده دی چې هلته يوازی ١٦٠٠ تنه ژوند کوي. د غزني ولايت دښار د سپيندي نومي رايه ورکووني په مرکز کې د رايي اچووني صندقونه (د راپورله مخي٢٠٠٠٠ رايو ) سره ډک شوي ؤ که څه هم دا په څرګنده دي چې په سپينده کي ثبت شوي رايه ورکوونکې شميرل شمير صرف ١٧٠٠ ؤ.

څنګه چې مخته يي يادونه وشوه، د ټاکنو د شکايتونو کميسون د ولسمشري ټاکنود رايي اچوونو د هغو صندقونو د رايي بيا شميرنی امر ورکړی چې رايي ورکووني په هغومرکزونو کې د ولسمشري ټاکنولپاره د اچول شوي د ٦٠٠ رايو سره برابر يا هم زياتی وي چې ١١٠ فيصده ګډوون ښيي.[91] چې د ټاکنو د خپلواک کميسون د وړاند ويني له مخي زيات ګډون په نښه کوي.

يوکانديد ته په بې ساري توګه د رايو لوړه فيصدي:

د ٢٠٠٩ سپتمبر ٨ نيټه د شکايتونو د اوريدلو کميسون دهغو شکايتونو د بيا شميرنی امر ورکړی چيرته چې يوه کانديد په بي ساري توګه د رايو لوړه فيصدي خپله کړي ده. د بيلګي په ډول د رايه اچووني په يوه محل کې ليږترليږه ٩٥ فيصده رايه خپلونه يا هم چيرته چې مساوي واقعي شمير رايي يو ځانګړي کانديد ته د رايه اچووني په يوشمير محلونو کې چې په ورته مرکزپوري اړه ولري ورکړل شوي وي.[92] د ادعاګانو په بنسټ ليږ تر ليږه د٣٠ رايه اچوونو مرکزونوپايلي په کندهار ولايت کې او د ٣٥ رايه اچوونو محلونو پايلي په ختيځه حوزه کې په ورته ډول د پوښتني وړ دي. د بيلګې په ډول د کندهار ولايت زيړي ولسوالي د اول کمپ رايه اچووني په مرکز کې ٢٢٨٨ رايي د يوکاند په ګټه اچول شوي دي.د کندهار ولايت د شيرشاه نومي رايه اچووني په مرکز کې ٤٧١٥ رايي د يوه کانديد لپاره اچول شويدي. د پکتيا ولايت د علي احمد خيلو د سيمي د رايي اچووني په مرکز کې ټولي ١٦٤٢ رايي د رايي اچووني په شپږو محلونو کې د يوکاندي په ګټه اچول شوي دي، نورو کانديدانو په کلي توګه کومه رايه نده ترلاسه کړي. او د پکتيکا ولايت د رايي اچووني په يو مرکز کې د رايي اچوونو دريو محلونو يوشانته پايلي درلودي د بيلګې په ډول په هريوه محل کې ١٠٤٤ رايي د جمهوري رياست د يوه کاندي په ګټه اچول شوي دي.[93]

***د رايي اچوني په مرکزونوکې انتخاباتی مبارزه کول او رايه ورکوونکو ته لارښوونه:***

په افغانستان کی د رايه اچوونکو د خپل نوماند د انتخاب حق ازادی د ټولنيز رواجونو لخوا محدود شويدی. د ټولنی د خوښی د نوماند انتخاب څنی وخت د نفوذ لرونکو مشرانو يا په ډليز شکل ټاکل کيږی. د انفرادی رايه ورکونکو د انتخاب ازادی لا نوره د نوماندو،د دوي د استازو، محلي قوماندانانو[94] او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو له خوا په دې ډول محدود شوی دي چې رايه اچوونکو ته د رايه اچونې په مرکزونو کې هدايات ورکول او هلته يې کمپاين کاوه چيرته چه يوناما او د بشری حقونو خپلواک کميسون ددغی کيټاګوری زيات شمير شکايتونه تر لاسه

کړی[95]. د محلي قدرت د جوړښت په پام کې نیولو سره دغسي عملونو په کلکه توګه د رایه ورکوونکو د ازادي ټاکني ممانعت وکړی. د ډکنو د شکایتونو د کمیسون د تهدیدونو، تیریو او انتخاباتي مبارزو په هکله ۷۸۴ شکایتونه ترلاسه کړیدي.

<u>د رایي اچولو په مرکزونو کې ټاکنیزي مبارزي کول:</u>

د رایي اچولو په مرکزونو کې ټاکنیزي مبارزي یوشانته د ولایتي شورا او جمهوري ریاست د کاندیدانو په ګټه ترسره شوي دي.د ټاکنو په ورځ په ټاکنیزو مبارزو لاس پوري کول د ټاکنو له قانون څخه سرغړونه ده. ددي قانون د نقض راپورونه د ولایتي شورا د کاندیدانو، د کاندیدانو د نمایندګانو او ددوي د ملاتړکووکو لخوا په خاصاً توګه په سهیل ختیځ،[96] سهیل،[97] شمال او[98] ختیځو سیمو کې ورکړل شوي دي. د شکایتونو د اوریدلو کمیسون د کابل ولایت څخه ٨٤، له بغلان ولایت څخه ٨٣، د هرات ولایت څخه ۶۸ او د تخار ولایت څخه ٥۲ د داسي ماهیت درلودنکي شکایتونه ترلاسه کړي دي.[99] د ملاتړکوونکو له لوري د کاندیدانو د پوسترونو ګرځول، د ولایتي شورا د کاندیدانو له لوري نیغه ټاکنیزه مبارزه ، یا ښځینه رایه ورکوونک ته د ټکریو ویشل[100] <u>اود ډوډي</u> ورکوونه[101] د رایي اچووني په مرکزونوکې د ټاکنیزومبارزو بیلګي دي.

<u>تهدید او اړایستنه:</u>

رایه ورکوونکو ته د لارښووني یا په نیغه توګه تهدیدوني شکایتونه ډیر زیات خپریدونکي ؤ او په اکثرو سیمو-[102] شمال،[103] سهیل،[104] شمال ختیځ،[105] ختیځ او[106] مرکزسیمو کې یي راپورونه ورکول شویدي چیرته چه د کاندیدانو نمایندګان او ددوي ملاتړکوونکې او په ځینو قضیوکې د ولایتي شورا کاندیدانویا پخپله مخته رایه ورکوونکوته په څرګند او نیغ ډول د رایي اچولو تر مخه لارښوونه کړي یا د رایي ورکولو پردی تر شاه ته تلل. علاوه پر دي د حکومتي او د ټاکنو د خپلواک کمیسون د مقاماتو[107] لخوا د رایي ورکوونکو په ازاده ټاکنه کې د لاس وهنی زیاتی ادعاګانی شویدی. دا ډول لاس وهنی اکثراً د ځینو والیانو یا ولسوالانو، د ولسوالیو د امنیه قوماندانانواو ملي پولیسو له لوري تر سره شویدي. [108]دبیلګي په ډول د کندهار او اروزګان په ولایتونوکې افغان ملي پولیسو، افغان سرحدي پولیسواو ولسوالانو د راپورونو له مخي رایه ورکوونکو ته لارښوونه کوله چې ځانګړیو کاندیدانو ته رایه ورکړي.[109] دغه رنګه عملونو د حکومت او د ټاکنو د خپلواک کمیسون د مقاماتو د بي طرفي د اصل څخه سرغړونه ده.[110] د خاصو بیلګو له مخي محلي قومندانان له خپلو مسلحو کسانو سره د رایي ورکولو په مرکزونوکې لیدل شوي چې رایه ورکوونکې یي اړایستل چې ځانګړوکاندیدانو ته رایه ورکړي.[111] علاوه پردي د دودونو له مخی ټاکنود خپلواک کمیسون مقاماتو رایه ورکوونکوته واک ورکړ چې د رایه ورکولو د کابین شاته سره راغونډ شي اوپه ټولیزه توګه خپل کاندي غوره کړی. بعضی استدلال کوی چې کیداي شي د متنفذو قدرت درلودنکو او په ځانګړي توګه د محلي قومندانانو له لوري چې رایه ورکوونه یي برابروله په کار وړل شوي وي.

***د رایې ورکولو ګڼ شمیر کارتونه:***

د رای ورکوونکو له خوا د رایي ورکول ګڼ شمیر کارتونو د کارولو په هکله شکایتونه ترلاسه شوي، مګر ددي شکایتوشمیر دا وړاندیز کوي چې دا یوه پراخه ستونزه نه وه. پدي هکله زیات شکایتونه له مرکزي او ختیځو سیمو څخه خپاره شوي دي اوډیر کم نوروو سیمو پوري اړه لري. د کابل او لوګر په ولایتونو کې (مرکزي سیمه) او د لغمان ولایت (ختیځ سیمه) کې د رنګ د خراب کیفیت له کبله رایه ورکوونکو ته دا قدرت ورکړ چې له یوځل څخه ډیرځلي رایه واچوي ځکه چې په دي هکله ظاهري شواهد نشته چي دا تثبیت کړي چې شخص دمخه رایه اچولي وه.[112] د ددي راپور ورکول شوي ده چې د محلي چارواکو، د شورا غړو او د کاندیدانو نمایندګان د درغلیو پدغه عملونو کې دخیل ؤ. د بیلګې په ډول د لوګر ولایت د چرخ په ولسوالي کې یوه حکومتي مقام د اټکل له مخي د رایي ورکولو ۸۰ کارتونه لرل او د خوست ولایت د تڼیو په ولسوالي کې د ولسوالي ساحوي کوردیناتور د راپورونو له مخي له ۲٥ څخه تر ۳۰ راي پاڼي پوری هریوه رایه ورکونکي ته ورکولي تر څودنوموړي د خوښی د ولایتي شورا کاندید ته رایه ورکړي.[113]

**دنورو په نمايندگی *رايه اچونه*:**

دنورو په نمايندگی رايه اچونه اساساً د ښځو په پلوی ترسره شوی دی او دغه د ښځو د هغه حقونو چی بايد په ازاده او خپلواکه توگه رايه ورکړی څخه تيري دي . دنورو په نمايندگی رايه اچونه له هغه دود سره تړاو لری چی نارينه د کورنی په استازيتوب په خاص ډول ښځو په ځای رايه ورکوی. دنورو په نمايندگی رايه ورکول عمل په پراخه پيمانه د رايه اچولو د مرکز د کارمندانو له لوری په خاصاً توگه په محافظه کاره يا هم کليوالي سيمو کې مثل شويو . دنورو په نمايندگی اچونه ډير ځلي د لوړ شمير رايه اچوني له کارتونو سره ترسره شوي دي.[114] دنورو په نمايندگی رايه اچوني په اړه شکايتونه اساساً له د سهيل، سهيل ختيځ (پکتيا، پکتيکا او غزني ولايتونو)[115] او مرکزي سيمو څخه خپاره شوي دي.[116] د پکتيکا ولايت د يوسف خيلو په ولسوالي کې د ولايتي شورای ښځينه غړي ته د راپورونو له مخي لاربنوونه شوي چي خپل کور د محلي دودونوله کبله پري نږدي او دهغي خاوند به دهغي په ځاي رايه واچوي. همدارنگه د پکتيا ولايت د گرديز په ښار کې د يوه رايه ورکوونکي پر وينا چي هغه ۳۵ رايي د خپلي کورني د ښځينو غړيو لپاره اچولي دي.

***د ښکته عمر لرونکو کسانو رايه ورکوونه:***

د ښکته عمر لرونکو کسانو رايه ورکوونه په شمال شرقی، شرقی او مرکزی سيمو کی يوه ځايی ستونزه وه. د ښکته عمر لرونکو کسانو رايه ورکونه د تابعيت د تذکری او د رايه اچول د ثبت د کارت په دقيق ډول د نه کتلو له کبله رامنځته شوی ؤ. د بيلگی په ډول په شمال شرقی څلورو ولايتونو بدخشان، کندز، تخار او بغلان کی راپورنه څرگندوی چی د رايه اچولو په يو شمير مرکزونو کی ښکته عمر لرونکی انجونی ليدل شوی چی رايه يی ورکوله.[117] په غربی سيمه کی، د کنړ ولايت د اسد آباد ولسوالی د سنگر، وارنته او څخار په منطقو کی[118]، د الانگار ولسوالی په شهيدانو او کاکس په منطقو کی او د لغمان ولايت د قرغی په ولسوالی کی د رايه اچولو په مرکزونو کی هم زيات شمير ښکته عمر لرونکو کسانو رايی ورکولی. په مرکزی سيمه کی البته دغه رنگه پيښی ډيری کموی[119].

***نيمگړتياوی:***

د نه تلونکی رنگ ناوړه کارونه ( کوم چه په ځينی ځايونو کی د پاکولو په موادوکېداي شي ولاړ شي) او د هيواد په کچه د کارتونو د سری کولو ښه کار نه ورکونکی ماشينونه (ترڅو د راجيستر کارتونه په نبنه کړی) چې په پای کی په قيچی گانو باندی بدل شول ستونزي عمومي شکايات وه.[120] دغه ستونزی د ناظرينو لخوا لکه د اينفيرل، فيفا د کتونکو، د ځانته عينی شاهدانو او به طلوع تلويزن کی د ولسمشری ټاکنو کانديد له لوری يادونه شوی ده. د ټاکنو د مديريت دغو عملی برخو په ټاکنيزه پروسه د رايه ورکوونکو د اعتبار د اغيزمند کولو فکتورونه دی په ځانگړی توگه د حقيقت په رڼا کی د نه تلونکی رنگ يو له هغو اقداماتو څخه شميرل کيده چی د سرغړونو مخنيوی وکاندی او د ټاکنو اعتبار او حيثيت يقنی کړی.

## IV. د بيان آزادي

لکه چي د سياسی حقونو د نظارت ( پی آر ايم ) په دوهم راپور کې يې يادونه شوی ده د بيان آزادي د کمپاين پرمهال په وروستيو ۱۷ ورځو کې رعايت شوې ده، کله چې ملاتړ کوونکو او نوماندانو کولای شو ځو په عامو غونډو کې گډون ولري او هغه سازماندهي کړي.[121] کله چې د کمپاين دوره د ۲۰۰۹ کال د اگست په ۱۷ نېټه پای ته نږدې شوه نو د ځينو نوماندانو لکه ولسمشر کرزی، ډاکټر عبد الله عبد الله، ډاکټر اشرف غنی احمدزی او رمضان بشردوست له خوا د هيواد په بيلا بيلو برخو کې دغه غونډې چې د قومي ليکو څخه وتلي وې جوړې شوې. ملاتړکوونکو په زياته شميرو کي پدغو غونډو کي گډون وکړ. د جمهوری رياست د دريو نوماندانو (حامد کرزی، ډاکټر اشرف غنی او ډاکټر رمضان بشردوست) ترمنځ عامه مناظره چې د افغانستان ملي تلويزيون له خوا خپره شوه ځانته يې د عوامو زياته توجه راواړوله.[122]

د رایه اچووني په ورځ (پورته یې وګورئ) د کومې خاصې پېښې راپور نه دی ورکړل شوی، نوماندانو، د هغوي ملاتړو او رسنیو په عمومی صورت دغه مقررات چې د رایې اچوني د ورځې ترمخه د ۴۸ ساعتونو د خاموشۍ پړاو رعایت وکړي او په دغه موده کې کمپاین و نه لري او هم د کمپاین لپاره موادونه ویشي. د خاموشۍ په پړاو کې د کمپاین ځینې دتیریو نمونې د ټاکنو د خلپواک کمیسیون د رسینو د نظارت د کمیسیون له خوا د نورین، تمدن، او شمشاد تلویزیون په خپرونو کې په ګوته شوې او همدارنګه د یوې دولتي ورځپاڼې، ارمان ملي او نخست ورځپاڼو د سرغړونو راپور ورکړل شو چې هغو د یو ځانګړی نوماند په پلوۍ د خاموشۍ په پړاو کې نشرات کړی او یا یې مقالې چاپ کړي دي. [123]

د ټاکنو په را رسیدو سره د ملي امنیت شورا د یو حکم په صادرولو سره د ټولو کورنیو او نړیوالو رسنیو څخه وغوښتل چې د رایه اچووني په ورځ د سهار د ۶ بجو څخه د ماښا م تر ۸ بجو پورې د خشونت د هر ډول پېښو د راپور ورکولو څخه ډډه وکړي او د امنیت په اړه هیڅ ډول صحنه نشر نه کړي. [124] رسنیو د دې راپور درلود چې حکومت به هغه بهرني ژورنالستان د هیواده وباسي او هغه رسنۍ یې وتړي چې د دغه بندیز څخه سرغړونه وکړي.[125] د ولسمشر د دفتر په وینا دغه حکم د دې لپاره وو چې "خلک وهڅول شي او د هغوي مورال د دې لپاره پورته وساتل شي چې د رایې اچوونو لپاره راووځي."[126] د راپورونو له خوا لس تنه خبریالان هغه مهال ونیول شول چې د هغه نښتې راپور یې تیارولو چې د کابل د ښار په لومړۍ امنیتي حوزه کې وشوه، همدارنګه د رایه اچووني په ورځ دوه خبریالان هغه مهال ونیول شول چې د کابل د ښار په ۸ مه امنیتي حوزه کې یې د نښتې مطبوعاتي پوښښ کولو. ټول دغه خبریالان د نیونې څو ساعته وروسته خوشې شول خود ځینو څخه ویډیویې ټیپونه ضبط شول.

د دغه حکم سره سم داسې باور کیدلو چې کورنیو رسنیو (د طلوع تلویزیون پرته) د رایه اچووني په ورځ د ټاکنو اړوند خشونتونو د راپور ورکولو څخه ډډه کړې ده. دغه حالت د ډیرو له خوا په تیره بیا د ژورنالستانو له خوا تر نیوکې لاندې راغلی دی. د افغانستان د ژورنالستانو د خپلواکې ټولنې له خوا دا اعلامیه نشره شو چې د آزادو رسنیو راپورونه د ټاکنو د مشروعیت سره نیغ په نیغه تړاو لري.[127] یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د حکومت څخه وغوښتل چې په رسنیو باندې د خشونتونود راپور ورکولو بندیز د افغانستان د اساسي قانون د احکامو له مخې چې د آزادو رسنیو تضمین کوی، لیرې کړي.[128] دا جوته نه ده چې آیا د رسنیو د راپورونو د نشتوالی په صورت کې عمومي امنیتي حالت د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۲۰ نېټه د رایه اچوونکو په ګډون اغیزه درلودله او که نه.

راپورونه جوتوي چې د رایه اچووني وروسته د خبریالانو لپاره چاپیریال ارام وو. ژورنالستانو په آزادانه ډول په دې هکله چې یې و نه کړای شول د ټاکنو په اړه د مسلو د ډار او تهدید په شمول راپور ورکړی خپلې اندیښنې څرګندې کړي. ځینې یې د نوماندانو له خوا په دې تهدید شوي و، چې که چیرې هغوي د تقلب او بې نظمیو په اړه راپور ور کړي نو ورته به سزا ورکړای شی. د بیلګې په ډول د غزنی په ولایت کې د یو خبریال څخه د نوماندانو د استازو له خوا وغوښتل شو چې دوي ته ټول سندونه او تصویري پټه چې په کې د رایه اچووني د ورځې بې نظمۍ مستندې شوې وې ور تسلیم کړي. داسې راپورونه هم را ورسیدل چې طالبانو ژورنالستان په دې تهدیدول چې د ټاکنو په اړه مثبت راپورونه خپاره نه کړي. [129]

## V - نتیجه

د هیواد په کچه بلکه په ځانګړی توګه په سویلی ،سویل ختیځ او ختیځو سیمو کی او همدا رنګه په بغلان او کابل ولایاتونو د ګڼ شمیر امنیت اړوند پیښو له امله چی نسبی توګه زیا ت شدت یی نه درلود د رایی ورکولو ورځ زیانمنه کړه .نا امنی د یو لړ بی اطمنانی په شمول د کلتوری او ټولینیزو خنډونو سره مل چی په ځانګړی توګه د پام وړ د ښځو لپاره چی د تیر ځل ټاکنو په پرتله په ټاکنو کی د ونډی کچه ټیټه وه با وجود له دینه چی ګڼ شمیر ټاکنو محلونه پرانیستی وو. اټکل کیږی چی په ۲۰ اګست د راجستر شوی رایو څخه یو پر دریمه برخه رایی د زیات توپیر په درلولو سره استعمال شوی. د افغانانو هغه لیوالتیا چی د ټاکنو پروسه کی د کمپاین په ترڅ کی تر سترګو شوی وه دتوقع وړ ونډه د رایی اچونی په ورځ تر لاسه نه شوه. ښځی په ځا نګړی او دوامداره توګه په سیاسی چارو کی د ازاد او خوښی ټاکنو څخه برخمنی نه شوی.ا په ځانګړی توګه دا تمثیل هم شوه چی په

دودیزه توګه منل شوی چی د دوی لپاره بل چا رایی استعمال کړی له دی امله چی دوی په خپله د رایی محلونو ته اسان لاس رسی نه درلود.

سره له دینه چی د ټاکنو د ورځ تر مخه د درغلی مخنیوی لپاره یو لړ اقدامات شوی و او یو شمیر خپلواک کتونکی په ټول هیواد کی ګمارل شوی و خو د ټاکنو څخه وروسته ګڼ شمیر د درغلی او بی ګډوډی ادعا وشوی . په سیمه ییزه توګه ددی ادعاو نوعیت او کچه مختلف وه خو بیا هم په زیاته اندازه د صندوقونو د ډکولو ،درغلی او ګډوډی اړوند ادعا داسی ویل کیږی چی د هیواد په سویل ، سویل ختیځ ، ختیځ او مرکزی سیمو کی صورت موندلی وو. د راپور د لیکلو په وخت د درغلی او ګډوډی اغیزی په عمومی ټاکنیزو پائلو تر اوسه څرګند ندی . دا به هغه وخت تر سترګو شی چی ایا د ټاکنو خپلواک کمیسیون ا د ټاکنو د شکایاتو اوریدو کمیسیون تر منځ چی په کوم میتودولوجی باندی موافقه شوی به هغه شکایتونه او درغلی ستونځی حل کړی چی د پائلو تائد لپاره لار هواره کړی کوم چی ټول احزابو او افغانانو ته د منلو وړ وي.

د سپتمبر په ۱۶ مه نیټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو لومړنی (نا تائید شوی) پایلی اعلان کړی چی د هغی له مخی رئیس جمهور کرزی د ۵۴،۶۲ په سلو کی رایو اخیستلو سره په سر کی راغی او ډاکټر عبدالله د ۲۷،۷۵ په سلو کی رایو اخیستلو سره ورپسی راغی. له دی کبله چی په هغه وخت کی د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون له خوا د درغلیو د تورونو بیا کتنی دوام درلود، دغه نتایج ابتدایی او موقتی وو.

د را رسیدلو شکایتونو د څیړنو په اساس چی په لومړی ضمیمه کی تشریح شو، د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون د اکتوبر په ۱۸ مه نیټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته هدایت ورکړ چی:

الف: د ۳۳۷۷ قرنطین شوو بکسونو په اړه د هر کاندید د رایو یوه مشخصه سلنه په ۶ کتګوریو کی باطل اعلان کړی.

ب: د ښکاره او قانع کوونکو شواهدو په اساس چی د د درغلیو د شکایاتونو په اره چی د اګست د ۲۰ می نیټی راهیسی ترلاسه شوی وو، د رای ورکولو ۲۱۰ محلونه په ټول ملک کی باطل شول.

ج: د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د رای ورکولو ۱۸ قرنطین شوی محلونه باید شمیرنه کی بیرته شامل شی، ځکه چی د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د درغلیو هیڅ شواهد په کی و نه موندل. د اکتوبر په ۲۰ مه نیټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چی د نومبر په ۷مه د ولس مشر کرزی او ډاکټر عبدالله تر منځ به د ټاکنو دوهم دور تر سره کیږی. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د محاسبی له مخی د لومړی سر کی کاندید رایی له ضروری ۵۰ په سلو کی اندازی نه چی د دوهم دور ته تللو څخه مخنیوی لپاره لازم بلل کیدلی، راټیټی شوی. په همدی ورځ په یوه خبر کنفرانس کی د امریکایی سناتور جان کیری او د د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی، کای ایده په حضور کی رئیس جمهور کرزی ومنله چی د انتخاباتو د دوهم دور تر سره کیدل ضروری وو.

## پای نوټونه

---

[1] د اروپایی اتحادیی د ټاکنو کتونکی هیئت –د ولسمشری او ولایتی شورا ټا کنی ۲۰۰۹( ۲۲ اګست۲۰۰۹ ) لومړی وینا: د ملی دیموکراتیک اداری د ټاکنو ناظرینو هیت د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ولسمشری او ولایتی ټاکنو په هکله لومړی وینا ۲۲ اګست ۲۰۰۹

[2] د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی مطبوعاتی وینا (۲۰ اګست ۲۰۰۹) د ملګرو ملتونو استازی د افغانستان د ټاکنو لاس ته راوړنو هرکلی :، داکتر سیما ثمر د بشر حقونو خپلواک کمیسیون مشری وینا ۲۰ اګست ۲۰۰۹ .

[3] ۲۴۱۸۳ د رایو مرکزونه: مطبوعاتی اعلامیه د ۲۰۰۹ د ولسمشری ټاکنو لومړی پائلو په حواله(۱۶ سپتمبر ۲۰۰۹ ) د ټاکنو خپلواک کمیسیون http://www.iec.org.af

[4] دUNDP د ټاکنو دفتر اونیزه ( ۱۱-۱۷ اګست ۲۰۰۹)

[5] تقریبا ۲۲۰۰۰ ټاکنیز محلات د ۲۰۰۴ ولسمشری ټاکنو کی پرانستل شوی او د ملی شورا او ولایتی شورا ټاکنو کی ۲۶،۲۴۸ ټاکنیز محلات پرانستل شوی وو . د JEMB روستنی راپور http://www.jemb.org

[6] د ټاکنو په هکله د ټاکنو د خپلواک کمیسون د مقرراتو د اولی مادی لمخی د رایو مرکز عبارت د نارینو او ښځیو لپاده د یو ترکیبی تر مخه معلوم شوی د رایو د محلاتو څخه دی.

[7] پژواک (۲۰ اګست ۲۰۰۹) ۱۳۴۱ بندیانو په ټاکنو کی رایی ورکړی .

[8] د UNDP ټاکنو دفتر اونیزه ( ۲۵-۳۱ اګست ۲۰۰۹)

[9] د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه FEFA د مطبوعاتی اعلامیه (۲۲ اګست ۲۰۰۹)

[10] په ځانګړی توګه د دولت مخالفینو د قندهار ولایت د خاکریز،ارغستان ، شاولی کوټ ، پنجوایی ،شورابک ،ریګیستان او نیش ولسوالیو کی د لاری مختلف ځایونو کی ماینونه خخ کړ ی وو . (یادونه د ملګری ملتونو ارشیف)

[11] د ملګرو ملتونو د امنیت د خوندیتوب اداری ( UNDSS ) راپور ۱۹ اګست ۲۰۰۹

[12] د غزنی ولایت د رادیوی خپرونی چی په ښار کی ۱۲۵ د موترو ځان وژونکی حمله کونکی موجود دی .

[13] دوه ځان وژونکو بریدونو په کابل ښار ۱۴ ملکی افراد د ۲ تنه ملګرو ملتونو پرسونل په شمول وژل او ۱۲۰ ملکی وګړی ټپیان شول.

